د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم (ډي ټي اِم) | افغـــــانستان

# د خلکو د تګ او راتګ په اړه لـــــنډ اوونیز راپور

د ۲۰۲۵ د جنوري د ۲۶ څخه د فبروری تر ۱، ارقام د شپې تر ۹:۰۰ پورې

## د ډي ټي اِم د خلکو بهر ته د سفر او راتګ د جریان د څارنې په اړه عمومي معلومات

د افغانستان آي اُو اِم د (ډي ټي اِم) پروګرام د خلکو بهر ته د سفر او بیرته راتګ د جریان د څارنې فعالیت ددې لپاره ډیزاین شوي ترڅو د جمهوري اسلامي ایران او پاکستان هېواد سره په سرحدي پولو کې د خلکو د سفر، تګ او راتګ په اړه ښه معلومات وړاندې کړي او ښه پوه شي. په دې فعالیت کې به دوه یو له بل سره تړلي یا اړوند فعالیتونه ترسره کیږي. لومړی د ټولو هغو د سفر په حال کې کسانو شمیرل دي چې له بهر څخه افغانستان ته راستنیږی او یا دا چې د افغانستان څخه بهر ته سفر کوي، چې د جریان د څارنې د شمیر په نوم هم بلل کیږي، ترڅو د افغانستان څخه د سفر او افغانستان ته د راستنیدونکو خلکو شمیر معلوم کړي. دوهم د ځمونې په ډول د ځینو کساو یا ډلو سره مرکې کول دي چې افغانستان ته د راستنیدو او یا هم د افغانستان څخه بهر ته د سفر په حال کې ترسره کیږي، چې د جریان د څارنې د سروې په نوم هم یادیږي، ترڅو بهر ته د سفر کونکو خلکو او هېواد ته د راتلونکو خلکو د ځانګړتیاوو، هڅو او اهدافو په اړه معلومات وړاندې کړي او په اړه یې ښه پوه شي.

دا باید په پام کې ولرو چې ډي ټي اِم په یوه مشخصه سرحدي پوله کې یوازې د سفر او تحرکاتو تعداد شمیري نه مستقل یا انفرادی اشخاص چې هېواد ته راستنیږی او یا د هېواد څخه بهر ته سفر کوي. په دې معنی که چیرې یو شخص په یوه اونۍ که د هېواد څخه بهر سفر کوي او بیرته هېواد ته راستون شي نو دا به یو وار د هېواد څخه بهر ته د سفر کونکو خلکو په ډله کې شمیرل کیږی او دوهم ځل افغانستان ته د راستنیدونکو خلکو په ډله کې شمیرل کیږي. د افغانستان څخه بهر ته سفر او بیرته راستنیدل د ډیرو مختلفو دلایلو سره تړاو لري لکه د بهر څخه بیرته راستنیدونکي مهاجرین، د کورنۍ لیدنه، ډیپورټ یا ردمرز کیدل، د اقتصادي دلایلو او تجارت لپاره سفر، روغتیایي ستونزو لپاره سفر، د تعلیم او تحصیل لپاره سفر، هغه افغان وګړي چې د مختلفو دلایلو پر اساس سفر کوي، او همدارنګه دوراني سفرونه هم ډیر معمول دي په دې معنی چې ځیني خلکو په اونۍ کې څو ځله د تجارت او مختلفو دلایلو پر اساس د هېواد څخه بهر سفر کوي او بیرته راځي. دا راپور د خلک بهر د سفر او بیرته راستنیدلو په اړه واضح معلومات وړاندې کوي.

د ډي ټي اِم دا فعالیت په څلورو هغه سرحدي پولو کې چې د عمومي لارو سره وصل دي او همدارنګه د جمهوري اسلامي ایران او پاکستان سره په شپږو نورو سرحدي پولو کې هم ترسره کیږي. په دې اوونیز راپور کې د آي اُو اِم د مختلفو سرچینو څخه معلومات راټول شوي. د معلوماتو د راټولولو د میتودولوژۍ او په دې اړه د لا ډیرو معلوماتو لپاره ددې راپور آخري پاڼې ته د (افغانستان ته د راتګ په اړه د آي اُو اِم معلومات) عنوان ته مراجعه وکړئ.

## د دې اونۍ مهم معلومات

- د دې راپور په موده کې، له بهر څخه هېواد ته د خلکو راتګ (۶۹،۶۲۵) دی چې د هېواد څخه د خلکو بهر ته د سفر (۵۸،۹۰۰) څخه ۱۷ سلنه زیات وو. د تیرې اونۍ په پرتله، په دې اونۍ که هېواد ته د خلکو د راتګ جریان شپږ سلنه کم شوی، پداسې حال کې چې د هېواد څخه بهر ته د خلکو د سفر جریان لس سلنه کم شوی.
- د ۲۰۲۴ کال له پیل راهیسې د ټولو میاشتو ترمنځ د ۲۰۲۵ کال د جنوري په میاشت کې له پاکستان څخه تر ټولو ډیر خلک هېواد ته راستانه شوي، چې ۱۳۳،۷۶۷ کسان وو. له دې څخه مخکې، تر ټولو ډیر هېواد ته د خلکو راتګ د ۲۰۲۴ کال د جولای په میاشت کې وه، چې په دې موده کې د ډي ټي ام لخوا هېواد ته د ۱۳۳،۰۰۰ کسانو راتګ شمېرل شوي وو. د سروې معلومات ښیي چې د خلکو د سفر اصلي دلایل په عمده توګه داوطلبانه راستنېدل (۴۸٪)، د کورنۍ اړوند دلایلو (۴۷٪)، او له د لنډمهاله بهرني سفر څخه بیرته راستنېدل (۳۸٪) وو. د سفر دا دلایل تر اوسه پورې د ۲۰۲۵ کال په جریان کې ثابت پاتې شوي.
- د تیرو دریو اونیو په پرتله، په دې اونۍ کې د هغو کسانو په منځ کې چې له هېواد څخه یې بهر ته سفر کړی ډیر کسانو پاکستان ته سفر کړی، چې د ټولو بهر ته سفر کونکو خلکو ۵۲ سلنه جوړوي، او پاتې ۴۸ سلنه خلکو بیا د ایران اسلامي جمهوریت ته سفر کړی.
- د آي اُو اِم د راستنیدو څخه ورسته د بشري مرستو د پروګرام یا (سي بي پا ها) د معلوماتو پر اساس د ۲۰۲۵ کال د جنوري په میاشت کې په ټولیزه توګه ۱،۸۱۳ کسان د کابل هوایی ډګر له لارې له ترکیې هېواد څخه راستانه شوی دي.
- د سپین بولدک په سرحدي پوله کې، د هېواد څخه بهر ته د خلکو د سفر جریان نسبت هېواد ته د خلکو د راتګ په پرتله ۱۴ سلنه لوړوالی لري. د سروې د معلوماتو پر اساس، د سپین بولدک په سرحدي پوله کې بهر ته د خلکو د سفر اصلي دلایل روغتیایي دلایل (۸۹٪)، ورپسې د کورنۍ اړوند دلایل (۵۱٪)، او د استوګنې هیواد ته سفر (۱۷٪) وو.

د سرحدي پولو پر اساس دخلکو تګ او راتګ په اړه معلوماتي نقشه




**وضاحـــــــــــــت:** دا نقشه فقط د وضاحت لپاره کارول شوې ده او هیڅ کله د آی اُو اِم لخوا د کومې رسمي ادعا یا موافقت په معنی نده

**افغانستان ته د راتګ جریان 69,625 ↓**

**د افغانستان څخه بهر ته سفر 58,900 ↑**

### د سرحدي پولو په اړه معلومات

په لاندې جدول کې سرحدي پولې د غرب نه د شرق په طرف ترتیب شوي

| سرحدي پولې | هېواد ته بیرته راستنیدل | د هېواد څخه بهر ته سفر |
| --- | --- | --- |
| اســـلام قلعه | 29,550 | 21,740 |
| ابو نصر فراهی | 955 | 1,609 |
| میـــلـــک | 9,864 | 5,384 |
| بـــــرامچه | 3,458 | 3,133 |
| نظر پوسته | 2,094 | 2,503 |
| سپین بولدک | 9,245 | 10,591 |
| انـــګور هډه | 301 | 562 |
| غلام خـــان | 298 | 445 |
| پتـــــان | - | - |
| تـــورخـــــم | 13,860 | 12,933 |

**د راپور د محتویاتو په اړه وضاحت:** د آي اُو اِم د معلوماتو راټول ددې لپاره دي تر څو نړیوالو او داخلی بشري سازمانو ته د افغانستان په سرحدي پولو کې د خلکو د سفر کولو او تحرکاتو په اړه معلومات ورکړي ترڅو هغوي وکولی شي خپلې برنامې او پروژې په ښه توګه پلان او ډیزان کړي. دا راپور دا ارقام او معلومات په دې اوونیز راپور کې په سرحدي پولو کې د خلکو د تحرکاتو په اړه په دې مشخصه شوې دوره یا وخت کې وړاندې کوي. دا ارقام او معلومات باید په عمومي ډول تجزیه او تحلیل نشي او د یوې اونۍ څخه د زیاد وخت او د منطقې په کچه د مهاجرت او بیځایه کیدو په اړه تعبیر نشي او فقط د همدې مشخصو سرحدي پولو او همدې اونۍ پورې اړه لري.

## افغانستان ته د راتګ د جریان په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس*

| معلومات او ارقام | جمهوري اسلامي ايران | پاکستان |
|---|---|---|
| له بهر څخه افغانستان ته د راتګ جریان | 40,369 | 29,256 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد لري | نـــشته | 202 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد نلري | 14,535 | 680 |
| هغه راستنیدونکي چې آي اُو اِم ورسره مرسته کړې | 5,156 | 616 |

## د افغانستان څخه بهر ته د سفر د جریان په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس****

| معلومات او ارقام | جمهوري اسلامي ايران | پاکستان |
|---|---|---|
| د افغانستان څخه بهر ته د سفر د جریان په اړه معلومات | 28,733 | 30,167 |

شـــــــرح: د هېواد څخه بهر ته د سفر جریان — له بهر څخه هېواد ته د راتګ جریان

### د افغانستان او جمهوري اسلامي ایــران ترمنځ د مجموعي تګ او راتګ په اړه معلوماتي چارټ (د ۲۰۲۴ د جنوري ۱۰ څخه تر ۱ د فبروري ۲۰۲۵)




| میاشت | له بهر څخه هېواد ته د راتګ جریان | د هېواد څخه بهر ته د سفر جریان |
|---|---|---|
| جـــنوری | 94,601 | 66,126 |
| فـــبروری | 101,521 | 63,273 |
| مـــارچ | 154,833 | 77,825 |
| اپـــریـل | 152,899 | 86,391 |
| مـــی | 193,405 | 110,710 |
| جـــون | 178,404 | 80,923 |
| جـــولای | 181,952 | 126,835 |
| آګـــست | 173,068 | 172,243 |
| سپتمبر | 255,404 | 102,887 |
| اکتوبر | 219,951 | 111,340 |
| نوامبر | 194,936 | 101,715 |
| دسمبر | 187,497 | 127,686 |
| جـــنوری | 182,478 | 136,635 |
| فبروی | 4,788 | 3,962 |

### د افـــــــــغانستان او پاکـستان ترمنځ د مجموعي تګ او راتګ په اړه معلوماتي چارټ (د ۲۰۲۴ د جنوري ۱۰ څخه تر ۱ د فبروري ۲۰۲۵)




| میاشت | له بهر څخه هېواد ته د راتګ جریان | د هېواد څخه بهر ته د سفر جریان |
|---|---|---|
| جـــنوری | 52,504 | 54,536 |
| فـــبروری | 79,068 | 74,310 |
| مـــارچ | 84,884 | 70,849 |
| اپـــریـل | 94,840 | 68,598 |
| مـــی | 126,292 | 85,807 |
| جـــون | 116,801 | 102,826 |
| جـــولای | 133,043 | 132,947 |
| آګـــست | 109,740 | 119,669 |
| سپتمبر | 120,489 | 132,188 |
| اکتوبر | 131,574 | 139,341 |
| نوامبر | 125,065 | 132,025 |
| دسمبر | 124,032 | 128,249 |
| جـــنوری | 133,767 | 135,377 |
| فبروی | 5,655 | 4,117 |

* د معلوماتو د راټولو د میتودولوژۍ په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخري پاڼې ته د (آي اُو اِم معلومات د راتګ په اړه) عنوان ته مراجعه وکړئ
** اسناد لرونکي راستانه شوي د (پي اُو آر) کارت لرونکي دي د معلوماتو منبع: د پاکستان ډي ټي اِم او د پاکستان د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو اداره یا (یو اِن اچ سي آر)
*** دا معلومات د افغانستان آي اُو اِم د راتګ څخه وروسته د بشري مرستو د پروګرام (سی بی پی ها) لخوا راټول شوي دا برنامه د هغه کسانو سره مرسته کوي چې افغانستان ته راستانه شوي وي او دا برنامه د سرحدي او مرزي کاري ګروپ لخوا حمایه کیږي. د سرحدونو کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږي د لا ډیرو معلوماتو لپاره لاندي لینک ته مراجعه وکړئ
**** ډي ټي اِم افغانستان د مختلفو ډلو په اړه چې دې وتو په حال کې دي معلومات نه راټولوي

# له بهر څخه افغانستان ته راتګ

لاندې تحلیل او معلومات د ۳،۳۱۸ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۱،۸۴۱ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۱،۴۷۷ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا ورسره مرکه شوې. په لاندې معلوماتو کې یوازې هغه افغان وګړي شامل دي چې د تګ او راتګ د څارنې او ارزونې د فعالیت د یوې برخې په توګه  ورسره مرکه شوې.

## د جمهوري اسلامي ایــران څخه هېواد ته راغلي خلک

هېواد ته د راستانه شویو خلکو په اړه معلومات*

| نارینه | عـــــمر | ښځینه |
|---|---|---|
| 2% | 60+ | 1% |
| 59% | 18-59 | 14% |
| 8% | 6-17 | 6% |
| 5% | 0-5 | 5% |

معلوماتي نقشه




### هغه ځواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

- 0% هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي
- 2% هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي
- 1% مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکي کسان
- 2% حامله او شیدې ورکونکې ښځې
- 1% مجردې او تنها ښځې
- <1% بی سرپرسته ماشومان

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| آمایش کارت*** | <1% |
| سرشماري کارت*** | 5% |
| هوشمند کارت*** | <1% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | 0% |
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 11% |
| د اعتبار وړ ویزه | 4% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 43% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 48% |

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 13% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 18% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 69% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| د مرز یا دیپورت | 49% |
| داوطلبانه راتګ | 40% |
| په هغه ځای کې د نا امنۍ احساس | 28% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شئ**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 4% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 12% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 76% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 8% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

### هغه ځواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

- 0% هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي
- 0% هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي
- 0% مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکي کسان
- 0% حامله او شیدې ورکونکې ښځې
- 0% مجردې او تنها ښځې
- 0% بی سرپرسته ماشومان

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| آمایش کارت*** | 0% |
| سرشماري کارت*** | 0% |
| هوشمند کارت*** | 0% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | 3% |
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 97% |
| د اعتبار وړ ویزه | 3% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 0% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 0% |

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 23% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 63% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 14% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| داوطلبانه راتګ | 81% |
| د کورنۍ دلایل | 9% |
| د لنډ بهرني سفر څخه راتګ | 8% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شئ**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 12% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 38% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 20% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 30% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوې
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شي
*** د آمایش او هوشمند کارت د جمهوري اسلامي ایران لخوا ویشل کیږی تر څو افغان وګړي وکړی شي هلته د خداماتو څخه برخمن شي. د سرشماري کارت د ایران حکومت لخوا ددې لپاره ویشل کیږی تر څو د غیرقانوني او بی اسنادو بهرنیو شمیر معلوم کړي، د تګ او راتګ د سفر اسناد هغه سند دی چې په ایران کې د افغانستان د سفارت لخوا هغه خلکو ته ورکول کیږي چې د اسنادو او ادری کارونو لپاره افغانستان ته راځي. د سفر خاصه اجازه نامه په سرحدي ولایتونو کې د سرحدي مسولینو لخوا هغه خلکو ته ورکول کیږي چې عاجل ضرورتونه لري لکه مریضي.

# له بهر څخه افغانستان ته راتګ

## د پاکستـــــان څخه هېواد ته راغلي خلک

معلوماتي نقشه




هېواد ته د راستانه شویو خلکو په اړه معلومات*




## هغه څواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي | مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکي کسان | حامله او شیدي ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| 0% | 1% | <1% | 1% | <1% | 0% |

### د اسناد او مدارک درلودل**

| | |
|---|---|
| پي او آر، وي آر اِف کارت*** | 5% |
| اي سي سي کارت*** | 1% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 50% |
| د اعتبار وړ ویزه | 44% |
| د اعتبار وړ تذکره | 63% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناد څخه | 24% |

### هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 51% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 9% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 40% |

### د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| داوطلبانه راتګ | 54% |
| د کورنۍ دلایل | 46% |
| د لنډ بهرنۍ سفر څخه راتګ | 41% |

### د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 32% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 12% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 54% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 2% |
| نه غواړم چې څواب ورکړم | 0% |

## هغه څواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې هېواد ته راستانه شوي

د زیانمنو ډلو شتون**

| هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي | هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي | مزمن ناروغۍ او خاص ارتیاوو لرونکي کسان | حامله او شیدي ورکونکې ښځې | مجردې او تنها ښځې | بی سرپرسته ماشومان |
|---|---|---|---|---|---|
| 0% | 3% | 6% | 0% | <1% | 0% |

### د اسناد او مدارک درلودل**

| | |
|---|---|
| پي او آر، وي آر اِف کارت*** | 0% |
| اي سي سي کارت*** | 13% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | 2% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 0% |
| د اعتبار وړ ویزه | 0% |
| د اعتبار وړ تذکره | 94% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناد څخه | 2% |

### هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 34% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 33% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 33% |

### د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| د کورنۍ دلایل | 54% |
| د لنډ بهرنۍ سفر څخه راتګ | 29% |
| داوطلبانه راتګ | 24% |

### د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 29% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 15% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 50% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 5% |
| نه غواړم چې څواب ورکړم | 1% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوې
** ځینو کسانو ممکن څو څوابونه انتخاب کړي وي نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شي
*** پي او آر، وي آر اِف او اي سي سي په پاکستان کې توزیع کیږي. د تګ او راتګ د سفر اسناد هغه سند دی چې په ایران کې د افغانستان د سفارت لخوا هغه خلکو ته ورکول کیږي چې د اسنادو او ادرې کارونو لپاره افغانستان ته راځي.

# د افغانستان څخه بهر ته سفر

لاندې تحلیل او معلومات د ۲،۵۷۲ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۸۴۹ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۱،۷۲۳ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه ورسره شوې. لاندې معلومات یوازې د هغو افغان وګړو په اړه دي چې د تګ او راتګ د څارنې او ارزونې د فعالیت د یوې برخې په توګه ورسره مرکې شوې دي.

## جمهوري اسلامي ایـران ته سفر کونکي خلک

### معلوماتي نقشه




### د هیواد څخه د سفر کونکو خلکو په اړه معلومات*

| | عـــمر | |
|---|---|---|
| 2% | 60+ | 1% |
| 76% | 18-59 | 15% |
| 2% | 6-17 | 3% |
| 1% | 0-5 | <1% |

## هغه ځواب ویونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې یې بهر ته سفر کړی

### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | 0% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | <1% |
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 99% |
| د اعتبار وړ ویزه | 100% |
| د اعتبار وړ تذکره | 82% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناوو څخه | 0% |

### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 15% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 16% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 15% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر نده کړی | 54% |

### دافغانستان‌څخه‌جمهوري‌اسلامي‌ایران ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| اقتصادي دلایل | 60% |
| د کورنۍ لیدنه | 31% |
| مراسم (مذهبی، تولنیز) سیاحت | 22% |

### د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 18% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 53% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 25% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 4% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

## هغه ځواب ویونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې یې بهر ته سفر کړی

### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | 0% |
| د تګ او راتګ د سفر اسناد*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 100% |
| د اعتبار وړ ویزه | 100% |
| د اعتبار وړ تذکره | 14% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناوو څخه | 0% |

### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 14% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 20% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 29% |
| هیڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر نده کړی | 37% |

### دافغانستان‌څخه‌جمهوري‌اسلامي‌ایران ته د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| اقتصادي دلایل | 68% |
| د کورنۍ لیدنه | 15% |
| روغتیایي دلایل | 11% |

### د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 11% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 44% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 36% |
| تر اوسه مې تصمیم ندی نیولی | 9% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوي په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوي
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فیصدي له ۱۰۰ څخه زیاته شي
*** د تګ او راتګ د سفر اسناد هغه سند دی چې په ایران کې د افغانستان د سفارت لخوا هغه خلکو ته ورکول کیږي چې د اسنادو او ادری کارونو لپاره افغانستان ته راځي. د سفر خاصه اجازه نامه په سرحدي ولایتونو کې د سرحدي مسولینو لخوا هغه خلکو ته ورکول کیږي چې عاجل ضرورتونه لري لکه مریضي.

# د افغانستان څخه بهر ته سفر

## پاکستان ته سفر کوونکي خلک

معلوماتي نقشه




د هېواد څخه د سفر کوونکو خلکو په اړه معلومات*

عـــمر

| نارینه | عمر | ښځینه |
|---|---|---|
| 3% | 60+ | 2% |
| 65% | 18-59 | 23% |
| 2% | 6-17 | 3% |
| 1% | 0-5 | 1% |

### هغه څواب ويونکي چې د اصلي سرحدي پولو له لارې يې بهر ته سفر کړی

**د اسناد او مدارک درلودل ****

| | |
|---|---|
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | 0% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 99% |
| د اعتبار وړ ويزه | 99% |
| د اعتبار وړ تذکره | 85% |
| هيڅ يو له پورتنيو اسناد و څخه | 1% |

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي ياست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه کم | 15% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې | 9% |
| د اوږدې مودې لپاره > د يو کال څخه زياد | 21% |
| هيڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر ندی کړی | 55% |

**د افغانستان څخه پاکستان ته د سفر دلايل (۳ عمده دلايل)****

| | |
|---|---|
| روغتيايي دلايل | 80% |
| د کورنۍ ليدنه | 53% |
| د استوګنې ځای ته سفر | 15% |

**د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه کم | 89% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې | 8% |
| د اوږدې مودې لپاره > د يو کال څخه زياد | 2% |
| تر اوسه مې تصميم ندی نيولی | 1% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

### هغه څواب ويونکي چې د نورو سرحدي پولو له لارې يې بهر ته سفر کړی

**د اسناد او مدارک درلودل ****

| | |
|---|---|
| د سفر لپاره خاصه اجازه نامه*** | <1% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 1% |
| د اعتبار وړ ويزه | <1% |
| د اعتبار وړ تذکره | 78% |
| هيڅ يو له پورتنيو اسناد و څخه | 19% |

**هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي ياست**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه کم | 18% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې | 25% |
| د اوږدې مودې لپاره > د يو کال څخه زياد | 49% |
| هيڅ کله مې د افغانستان څخه بهر سفر ندی کړی | 8% |

**د افغانستان څخه پاکستان ته د سفر دلايل (۳ عمده دلايل)****

| | |
|---|---|
| د کورنۍ ليدنه | 43% |
| روغتيايي دلايل | 37% |
| مراسم (مذهبی، تولنيز) سياحت | 24% |

**د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه کم | 37% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو مياشتو څخه زياد تر يو کال پورې | 20% |
| د اوږدې مودې لپاره > د يو کال څخه زياد | 32% |
| تر اوسه مې تصميم ندی نيولی | 11% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازيتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوي
** ځينو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دې اساس ممکن فيصدي له ۱۰۰ څخه زياته شي
*** د سفر خاصه اجازه نامه په سرحدي ولايتونو کې د سرحدي مسولينو لخوا هغه خلکو ته ورکول کيږي چې عاجل ضرورتونه لري لکه مريضې.

## هېواد ته د راتګ او د هېواد څخه د سفر ځايونه

| له بهر څخه افغانستان ته راتګ | د افغانستان څخه بهر ته سفر |
|---|---|



## افغانستان ته د راتګ په اړه د آي اُو اِم معلومات

ډي ټي اِم افغانستان، ډي ټي اِم پاکستان، او د آي اُو اِم افغانستان له راتګ څخه وروسته بشرى مرستو پروګرام (سي بي پا ها) مختلف میتودونه کاروي ترڅو افغانستان ته د راتلونکو کسانو مختلف ډیموګرافیک معلومات راټول کړي. لاندې د جریان چارټ د راستانه شویو خلکو د فرعی ډلو تر منځ اړیکې روښانه کوي او دا چې څنګه آي اُو اِم خپل مختلف فعالیتونه او میتودولوژي کاروي ترڅو افغانستان ته د راتګ په اړه دقیق او جامع معلومات ترلاسه کړي.

**1 — ټول هغه خلک چې افغانستان ته راغلي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم افغانستان د هر فرد تګ راتګ، پرته د تابعیت، اسناوو وضعیت، یا په افغانستان کې د پاتې کیدو پلان په پام کې نیولو سره، چې د اسلام قلعه، میلک، سپین بولدک، غلام خان او تورخم سرحدي پولو څخه افغانستان ته راځي شمیري. دا فعالیت د جریان د نظارت په نوم هم پیژندل کیږي. ډي ټي اِم افغانستان خپل پر جریان څارنې سروې فعالیت په کارولو سره د شمیرل شویو کسانو څخه ځینې په نمونې ډول سروې کوي.

**2 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم پاکستان د هغو افغان وګړو شمیر راټولوي چې د سپین بولدک او تورخم له لارې افغانستان ته راستنیږي. بیرته راستانه شوي کسان د هغو افغانانو په توګه طبقه بندي شوي چې اراده لري بیرته راستانه شي او د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې ژوند وکړي، د هغو کسانو په پرتله چې یوازې د سوداګرۍ لپاره سفر کوي یا په موقت ډول افغانستان ته سفر کوي. د جمهوري اسلامي ایران سره په سرحد کې ورته فعالیت نشته.

**3 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک لري**
دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

**4 — افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک نلري**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

د اسناوو لرونکو راستیدونکي شمیر د پاکستان ډي ټي اِم د معلوماتو څخه ترلاسه شوي. د بې اسناده راستیدونکو شمیر افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) له معلوماتو څخه ترلاسه شوي.

**5 — هغه خلک چې د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي**
دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي نقطو ته نږدې د استوګنې په مرکزونو کې له بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته کوي.

## د هغه افغانانو په اړه معلومات چې ورسره مرسته شوي

د آي اُو اِم افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو پروګرام (سي بي پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې سرحد ته نږدې د استوګنې د مرکزونو څخه تیریږي او د آي اُو اِم او سرحدي کاري شریکانو څخه مرسته ترلاسه کوي. د سرحد کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږي. د نورو معلوماتو او د سرحدي کاري ګروپ په اړه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره، د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ.

د هغه کسانو مجموعی شمیر چې افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي (د ۲۰۲۴ د جنوري ۱۰ څخه تر ۱ د فبروري ۲۰۲۵)

### د پاکستان څخه بیرته راستانه شوي

سپین بولدک



تـــــورخم



### د جمهوري اسلامي ایران څخه بیرته راستانه شوي

اسلام قلـــــعه



میلـــــــــک



# له ترکيې څخه بيرته راستنيدونکي

د آي اُو اِم افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو پروګرام (سي پي پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې د کابل په هوايي ډګر کې د الوتکې له لارې بيرته افغانستان ته راځی. لاندې تحلیل د ۲۰۲۵ کال د جنوري په میاشت کې له ترکيې څخه د خلکو د رارسيدو کليدی ارقام او معلومات وړاندې کوي.

افغانستان ته له ترکيې څخه بیرته راستنیدونکي د ۲۰۲۵ د جنوري په میاشت کې: ۱,۸۱۳

افغانستان ته له ترکيې څخه بیرته راستنیدونکي د ۲۰۲۴ کال د پیل راهیسې: ۲۶,۱۱۴

د هغه کسانو مجموعی شمیر چې له ترکیې څخه افغانستان ته راغلي (۲۰۲۴ له جنوري څخه تر جنوري ۲۰۲۵)




معلوماتي نقشه




## د راستانه شویو خلکو په اړه عمومي معلومات: جنوري ۲۰۲۵

### هغه ولایات چې خلک ورغلي




### د خلکو په اړه عمومي معلومات

| | |
|---|---|
| نــــارینه | 97% |
| ښـــځینه | 3% |
| د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړي | 1% |

### د اسناد او مدارک درلودل

| | |
|---|---|
| د سفر موقتی اسناد او مدارک | 97% |
| پاســـــپورت | 1% |
| تــــــــذکره | <1% |

### د افغانستان څخه د سفر دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| نا امني | 52% |
| طبيعي آفات | 45% |
| د اقتصادي فرصتونو نه شتون | 39% |

### هغه موده چې په ترکیه کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه کم | 31% |
| د متوسطې مودې لپاره > د دریو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 9% |
| د اوږدې مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 60% |

### افغانستان ته د راتګ دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| د پولیسو لخوا آزار او اذیت | 78% |
| نا امني | 28% |
| د پولیسو لخوا نیول | 21% |

### په افغانستان کې دی مشخص ځای ته د تګ دلایل (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| د وظیفی او کار لپاره | 100% |
| د استوګنې ځای یا کور ته لاسرسی | 9% |
| د استوګنې اصلي ځای ته سفر | 5% |

* ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دی اساس ممکن فیصدي د ۱۰۰ څخه زیاته شي